ليکوال: پوهنمل حاجی محمد نوزادي تاريخ ۰۲/۰٦/۲۰۰۸

# د لوږی ستونزه - پلانيزه اقتصاد که ازاد بازار ؟

د ډله ايزو رسنيو څخه نژدی هره ورځ دنړی په کچه دخوراکی توکو د کمښت او د لوږی دپراخيدو خبرونه ترلاسه کيږی . داپرابلم په ځانګړی توګه په وروسته پاتو او د ودی په حال کښي هيوادونو په اړه ډير دپام وړ او دهری ورځی په تيريدوسره زړه بوګنونکی ښکاری . هغه هيوادونه چی جنګ ځپلي او دمافياوی اقتصاد په منګولو کی راګير دی ، پدی اړوند ئی دپرګنو ستونزی چټک پام اړولو ته اړتياری . په تيره بيا داسی هيوادونه لکه افغانستان چی هم وروسته پاته هيواد وو او هم نژدی ۲۵ کلن جنګ وځپي او هم طبعی ناخوالو لکه وچکالی او نورو افتونو بيرحمانه يرغلونه پری وکړه ، په نړيواله کچه دخوراکی توکو کمښت به ورته يوه بله دردونکي غميزه نابللي ميلمنه کړی .

ددی خبری دثبوت ښه بيلګه اخيرنی خبر وو چی ديوی کورنۍ مور اوپلار دخپلو اتو تنو بچيانو دژوندی پاته کيدو په خاطر ځانونه دومره وړي ساتلي وه څوپه اخير کی دوی دواړوله لوږی ساه ورکړه او نيم ژوندی پاته شوی بچيان ئی ګاونډيانو کليوالو په خپلو کی سره وويشل او ديوی بلي کورنۍ دوه تنه چی مور اوپلار ئی دخوراکی توکو د رانيولو توان ندرلود ، دلوږی نه مړه شول . داحالت نه يوازی د اوسني چاراوکو بلکه دټول اقتصادي - سياسی نظام او ان دهغی نړيوالي متمدني ټولني دپاره دستر شرم خبره ده ، کوم چی همدا اوس اوس ئی په افغانستان کښی د ۳۷ پرمختللو هيوادونوڅخه په لس ګونوزره تر غاښو وسله وال کسان په ميلياردونو ډالره داقتصادي - ټولنيزی بيارغوني او دسولي دټينګښت پنامه لګوی ، خو په واقعيت کښی هره ورځ په ټنو بمونه غورځوی ، دهيواد په جنوب ، لوديز او ختيز کی بشپړ کلي دخپل اقتصادی سيستم سره يو ځای لکه کاريزونه ، ويالي ، باغونه ، هتی ، استوګن ځايونه او نور دخاورو سره خاوری او په زرګونو انسانان دوينو په رود کښی لاهو کوی . البته هغه مرګ ژوبله چی دځانمرګو بريدونو اونورو ترورريستي کړنو لامله ترسره کيږی ، ښکاره علت دهمدغوهيوادونو دوسلوالو ټولګيو شتون دی چی پخپله دستونزو په حل کي نه درمل دی نه طبيب .

البته داخبره اوس هم نړيوالو اوهم هيوادوالو منلي ده چی دبيارغاوني دپاره په هيوادکښی دجنګ مخنيوی او دسولي ټينګښت ترنورو ټولو چارو په لومړيتوبونو کی راځی . ددغه خيرغوښتونکي موخی پخاطر بيا دملګرو ملتونو دپريکړی له مخی نړيوالو سوله راوړونکو وسلوالو ټولګيوته اړتيا هم دمنلو وړ ده . ددغه کارګټه به هغه وخت اغيزمنه وی چی داقتصادی - ټولنيزې ستراتيژۍ اړخونه ټاکل دافغانی ټولني دعيني واقيعتونو سره په پوره اندول کی په پام کی ونيول شی . له بده مرغه داخيری درو ناورو لسيزو تجربه ښئی چی د ټولني د داخلي شرايطو وځرنګوالي ته پدغسی چارو کښی هيڅ پاملرنه نه کيږی او يوازی دچاراواکو احساسات پدی هکله ټاکونکی رول لوبوی . دبيلګی په توګه د۱۳۵۷ کال دثورد اومی نيټی وروسته دهيوادپه اقتصادی ستراتيژۍ کی دغيرپانګوالي لاری داقتصادی سيستم پر مخ بيولو باندی ټينګار وشو . پداسي حال کی چی پخپله پانګوالي ( کپتاليستي اقتصادی - سياسی سيستم ) د ټولني دتکامل يو ډير مهم اوپرمختللی پړاو دی ، له هغه نه مخ اړول اوپه نيغه د وروسته پاته فيوډاليزم څخه سوسيالستي اقتصادی پړاو ته ټوپ وهل ملا ماتونکي پايلي درلودلای شی . د۱۳۵۸ کال دجدی په تورماښام دسره اردو له يرغل او دهيواد داشغال وروسته چاراوکو داسی فکر کاوه چی نور نو ګوايا د سوسياليزم فاز ( پړاو ) هم په تيريدو دی او ډير ژر به يوبل ته دکمونيزم د برياليتوب مبارکی ووايی .

د ډاکتر نجيب الله د واکمني تر نسکوريدو وروسته خو نه اداره پاته شوه ، نه ئی اقتصادی چلند . دی مرحلی ته د ټولني دتکامل په پړاوونو کی کوم علمی منل شوی نوم ورکول اسانه کار ندی . دا يوازی د زور واکانو يو پاټک سالار انارشيزم وو چی په پای کی ديوه غښتلي فونداميتاليزم په مټ را ويرزول شو .

د امريکا په مشری دنړيوال ائتلاف په زوردطالبانو تر سقوط وروسته په لنډ مهال او انتقالي پړاو کی د چارو واګی تاريکو دودپالو ( محافظه کارانو ) او يو کم شمير تکنوکراتانو ته وسپارلي شوی . محافظه کاران ئی چی په واقيعت کی يوه بنسټپاله ډله وه ، نه په اداره پوهيدل او نه ئی هم په اقتصادی چلند . لکه ليوه چی له خدايه باد او باران غواړی ، دوی هم پدغو نامناسبو شرايطو کښی چی نه د کلاوی سر چاته معلوم وو نه ئی پای ، يوازی د خپلو جيبونو وپرسولو ته پام اړولي وو او پدی کار کی ئی تر لويه بريده دپام وړ برياليتوبونه هم ترلاسه کړه . تکنوکراتانو بيا ددی


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

دپاره چی دخپل دوهم پاسپورت هیوادونه خوښ وساتی ، د ( ازاد بازار ) پرګوتو ئی هیوادوالو ته کشمیر جوړ کړ او دائی د سوسیالیزم نه ترهیدلو پرګنو ته دنجات یوه پخه او باوری لاری په توګه وستایل اوهڅه ئی وکړه څو پر دی دنیا ورته ددغی لاری نه دجنت دروازه پرانیزي .

پدی کی هیڅ شک نشته چی هم ازاد بازار او هم د دولتی پیاوړی سکتور په غیره کښی پلانیزه اقتصاد په مختلفو هیوادونو کی دیوی سالمې اداری په مټ ټاکلی دپام وړبریالیتوبونه ترلاسه کړیدی . خو اصلې ستونزه زما په اند ددغو دوو چلندونو پرڅرنګوالې نه ، بلکه د اداری دروغتیا او سلامتې پرشاوخوا راګرځی . لدی نه پرته بیا تر ټولو ستونزمنه مسئله پدغو دوو سیټمونو کښی یو بل ته د اوښتلو پر وخت منځته راځی . هر یو سیستم ئی دځان دپاره اداری ځانګړتیاوو ته اړتیا لری . مثلاً د پلانیزه اقتصاد د ځانګړتیاوو سره جوړه شوی اداره په چټک او فوری اوښتون سره د ازاد بازار د رهبری کولو او تنظیمولو وړتیا نلری او برعکس ئی همدارنګه حالت دی . له همدی کبله ضرور ده چی دا ډول اوښتون باید په تدریجی توګه ترسره شی . کنه نو پداسی حال کی د یوه سیستم چټک دپښو اچول چی پر ځای ئی بل سیستم لاپوره پرپښو نه وی دریدلې ، ډیری ناخوالې منځته راوړي ځکه چی دقانونمند بهیر پرمختګ ترپښو لاندی او پدغسی باد او باران کښی د لیوه غوا لنګیږی :

چه خوش ګفته فردوسي طوسی به مرګ خربود سګ راعروسی

د ازاد بازار د پیاوړتیا او د پرګنو په ګټه دهغه دپرمختګ دپاره په اړونده ټولنه کښی لاندی ځانګړتیاوی حتمی شرایط ګڼل شویدی :

۱ - د هیواد په قلمرو کښی پوره سرترسری امنیت .
۲ - سالمه او دفساده پاکه اداره ترڅو د خصوصی سکتور څخه دولتی مالیات ترلاسه کړای شی .
۳ - د قانون بشپړه واکمنې اودخصوصی سکتور پرټولو فعالیتونو باندی دهغه یو شان تطبیق .
٤ - خپلواک قضایی سیستم چی دقانون دتطبیق توان او وړتیا ولری .
٥ - دازاد بازار په چارو کی د روزل شوو مسلکی کادرونو شتون .
٦- دقیق محاسبوی سیستم چی په خصوصی سکتورکي دهرډول اقتصادی فعالیتونو د راکړی ورکړی دبیلانس جاج واخیستلای شی .
۷- د ټولو راکړو ورکړو دګټې او زیان دثبت دپاره دپرمختللوتکنالوژیکې اسانتیاوو او پیاوړو متودونو د کارولو امکانات .
۸ - پیاوړی ګمرک او دمحصول اخیستلو موثری او دقیقی چاری .
۹ - پر خپل وخت دمالیاتو دترلاسه کولو په موخه د اړینو جبری متودونو نافذول او پکار اچول .
۱۰ - ۰۰۰۰۰۰۰۰ او داسی نوری اړوندی چاری .

لکه څنګه چی وینو دلوړو اړینو شرایطو څخه یو هم په بشپړ شکل په افغانستان کی وجود نلری ، نوبیا څرنګه کیدلای شی د ازاد بازارڅخه دپرګنو په ګټه نتیجه پلاس را شی . پدغسی حالاتو کښی لکه څنګه تجربی ښودلې ، داقتصاد مافیاوی شکل وده مومی او په پایله کي دټولنې منځنۍ قشر پر دوو برخو ویشل کیږی . یوه ډیره وړه برخه ئی چی چانس یاری ورسره وکړی ، د زور واکانو تر سیوری لاندی ځای پیداکوی په شتمنه طبقه ورګډیږی اوپاته ستره برخه ئی د بیوزلو لښکر ورپراخوی . ددی کارپایله داده چی دیوه وړوکی شمیر چلبازانو او غدارانو بلډینګونه اسمان ته خیژی او میلیونې پرګنې په کوډلو او کیږدیو کښی دلوږی او ناروغیو دښامار په خوله کی دمرګ سره لاس او ګریوان وی . پدي ډول د اداری فساد ریښی اوبه اخلی ، اقتصادی مافیا او زورواکان پیاوړی کیږی ، د وسلو او نشه ای توکو قاچاق پراختیا مومی او بد امنی سیوری غوړوی .
دلوړو خبرو په پام کی نیولوسره پکارده د دولتی سکتور ټول اړخونه لکه تصدی ګانی او خدماتی ارګانونه دیوی ټاکلې مودې دپاره لانور هم وساتل شی ترڅو د ارزاقو د ادارې او تعاونی ښانګو دلاری دخوراکی او استهلاکی لومړنی موادو پر ویش او خرڅلاو باندی دولت دسبسایډی لګولو توان ولری . ددی کار سره جوخت کیدلای شی د اداري سلامتیا او نورو اړینو شرایطو دپوره کیدو او پیاوړتیا په پام کی نیولوسره دازاد بازار پیاوړتیا ته هم پاملرنه وشی او په تدریجی ډول هغه ته د اوښتلو لاره خلاصه شی .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de